

هفته واره رساله

# بغیر د حج کولو د حج ثواب







(پښتو)

- د غریبانو حج
- د سلو حجونو ثواب
- د هر وینښته په بدله کښې نیکۍ
- د دوه حجونو او دوه عمرو ثواب

ترجمه
TRANSLATION DEPARTMENT
(DAWAT-E-ISLAMI)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ط

# بغیر د حج کولو د حج ثواب

دُعائے عطّار: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "**بغیر د حج کولو د حج ثواب**" ولولي یا واوري د هغهٔ د خپل خوږ اخري نبي، مکي مَدَني مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ وسیله سره د مور پلار او د بچو هر کال د مبرور حج او د مدینے منورې د مقبولې حاضرۍ سعادت نصیب کړې او هغهٔ بے حسابه اوبخښې۔ اٰمین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

## دُرُود شریف

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** "فرض حج کوئ، بے شکه چې د دې اَجر پهٔ 20 غَزواتو کښې د شرکت کولو نه زیات دے او پهٔ ما باندې یو ځل دُرُودِ پاک لوستل د دې برابر دے۔

(فردوس الاخبار، 1/339، حدیث: 2484)

ہر بَرَس حج کروں، گردِ کعبہ پھروں     یا شہِ محترم، تاجدارِ حَرَم
تیرے عطّار کا، ہے یہ اَرماں شہا     نکلے طیبہ میں دَم، تاجدارِ حَرَم

(وسائلِ بخشش، ص 247، 248)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

# بغیر د حَج کولو حاجي

حضرت رَبیع بِن سلیمان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مونږه دوه وروڼه د یوې قافلې سره د حج د پاره روان شو، چې کله ”کوفې“ ته ورسیدو نو زۀ د څۀ سامان اخستو د پاره بازار ته روان شوم، پۀ لاره کښې مې دا عجیبه منظر ولیدو چې پۀ یو شاړ ځائے کښې یو مردار ښاروے پروت وو او یوې ډیرې غریبې زنانه پۀ چاقو باندې د هغې نه غوښه پرې کوله او پۀ یوه شکرَۍ کښې یې اېښودله- ما سوچ وکړو چې دا مُرداره غوښه ورې ځکه پرې خاموشه نۀ دې پاتې کیدل پکار، ممکنه ده چې دا څوک پخلې والا وي او هم دا پخوي او پۀ خلقو باندې یې خوري، زۀ پټ پۀ هغې پسې روان شوم- هٰغه زنانه د یو کور سره ودریدله او دروازه یې وډبوله، د دننه نه اواز راغلو: څوک یې؟ هغې ووئیل: دروازه برسیره کړۀ! هُم زۀ بد حاله یم- دروازه برسیره شوه او پۀ هغې باندې څلور جینکۍ راغلې په کومو چې د خراب حالت او مصیبت نخښې ښکاریدلې- هٰغه زنانه دننه لاړه او هٰغه شکرَۍ یې د هٰغه جینکو مخې ته کیښودله او پۀ ژړا یې ووئیل: ”دا پخه کړئ او د الله پاک شُکر ادا کړئ، د الله پاک پۀ خپلو بندګانو باندې اِختیار دے، د خلقو زړونه د هغۀ پۀ قبضه کښې دي-“ هٰغه جینکو هٰغه غوښه کټ کړه او پۀ وور یې ورَته کول شروع کړل- زۀ د زړۀ نه ډیر خفه شوم، ما د بهر نه اواز وکړو: ”اے د الله پاک بندې! د خُدائے د پاره دا مۀ خورئ-“ هغې ووئیل: تۀ څوک یې؟ ما ووئیل: زۀ یو مسافر یم- هغې ووئیل: مونږه پخپله د تقدیر قیدیان یو، د دریو کالو نه زمونږه څوک پوښتنې کولو والا نشته، اوس تۀ زمونږ نه څۀ

غواړي؟ ما ووئیل: د غیر مسلمو د یوې فرقې (د وور عبادت کوونکو) نه علاوه په بَل هیڅ یو مذهب کښې مُرداره خوړل جائز نهٔ دي- هغې ووئیل: " مونږه د نبوت د خاندان شریف (یعنې ساداتِ کرام) یو، د دې جینکو پلار ډیر نیک انسان وو هغهٔ هم د خپل ځان پهٔ شان نارینوو سره د دې دوئي نکاح کول غوښتل، د هغې نوبت رانغلو او هغوئي وفات شول- کوم میراث (یعنې جائیداد چې) هغوئي پریښودے دے وو نو هغه هم ختم شو، مونږ ته پته ده چې مُرداره خوړل جائز نهٔ دي خو د اِضطرار پهٔ حالت (یعنې د ژوند د خطرے پهٔ وخت ) کښې جائز کیږي او مونږ د څلورو ورځو نه وږي یو-

**خوږ و او محترمو اِسلامي ورونړو!** دلته پهٔ بهارِ شریعت، جلد: 3، صفحه: 373 باندې موجودې دا دوه مسئلې هم یادې ساتئ: وړومبۍ مسئله: د اِضطرار پهٔ حالت کښې یعنې چې کله د مرګ خطره وي نو که حلال څیز د خوراک د پاره نهٔ میلاؤیږي نو حرام څیز یا مُردار یا بَل چا څیز دې وخوري خو خپل ژوند دې بچ کړي او د دې څیزونو پهٔ خوړلو باندې پهٔ دې حالت کښې مُؤَاخَذه (یعنې د قیامت پهٔ ورځ پوښتنه) نشته، بلکې د نهٔ خوړلو د وجې نه د مړ کیدو پهٔ شکل کښې مُؤَاخَذه ده اګرچه د پردي څیز پهٔ خوړلو کښې تاوان ورکول شته - دویمه مسئله: که د تندې نه د مرګ خطره وي نو د څهٔ څیز څښل او ځان د مرګ نه بچ کول فرض دي- که اوبه نهٔ وي او شراب موجود وي او معلومه وي چې د دې پهٔ څښلو ژوند بچ کیدے شي، نو دومره دې وڅښلے شي چې دا خطره پرې ختمه شي- (بهارِ شریعت، 3/373، حصه: 16)

(حضرت ربیع بن سلیمان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي:) د ساداتِ کرامو د کورنۍ درد ناک حالات چې مې ولیدل نو ما له ژړا راغله او زۀ ډېر پۀ ناقلاره زړۀ د هغه ځائے نه راواپس شوم- زۀ د ورور خوا له لاړم او ورته مې ووئیل چې زما د حج اِراده نشته- هغوئي زۀ ډېر پوهه کړم او د حج فضائل يـې راته بیان کړل چې حاجي پۀ داسې حالت کښې راواپس کیږي چې پۀ هغۀ باندې هیڅ ګناه نۀ پاتې کیږي وغیره وغیره- خو د ورور د بیا بیا وئیلو باوجود ما خپلې جامې، د اِحرام څادرې او کوم سامان چې زما سره وو پۀ کومو کښې چې 600 درهمې هم وې هر څۀ مې راواخستل او روان شوم، د بازار نه مې د 100 درهمو وړۀ او د 100 درهمو جامې واخستلې او باقي 400 درهمې مې پۀ وړو کښې پټې کړې او د ساداتِ کرامو کور ته لاړم او ټول سامان کپړې او وړۀ وغیره مې هغوئي ته وړاندې کړل- هغې زنانه د الله پاک شُکر ادا کړو او داسې دُعا يـې وکړه: اے اِبنِ سلیمانه! الله پاک دې ستا مخکښیني وروستني ټول ګناهونه معاف کړي او تا ته دې د حج ثواب او پۀ خپل جنّت کښې ځائے درعطا کړي او داسې بدله دې درته د دې عطا کړي کومه چې پۀ تا باندې هم ظاهره شي-" د ټولو نه مشرې جینۍ دُعا وکړه: " الله پاک دې ستا اَجر دوه چنده کړي او ستا ګناهونه دې معاف کړي-" دویمې دا دُعا وکړه: " الله پاک دې تا ته د دې نه زیات درعطا کړي څومره چې تا مونږ له راکړل-" دریمې دُعا وکړه او اوئې وئیل: " الله پاک دې زمونږه د نیکه بابا جان رحمتِ عالمیان صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ستا حشر وکړي-" څلورمه کومه چې د ټولو نه کشره وه هغې داسې دُعا وکړه: " اے الله پاکه! چا چې پۀ مونږ باندې اِحسان وکړو

تهٔ د هغې نعم البدل (یعنې ښه بدله) هغهٔ ته زر عطا کړې او د هغهٔ مخکښنیني او وروستني ګناهونه معاف کړې-" د حاجیانو صاحبانو قافله روانه شوه او زهٔ د هغې د واپسۍ پهٔ انتظار کښې مجبوراً هُم پهٔ کوفه کښې پاتې شوم- تر دې پورې چې د حاجیانو صاحبانو واپسي شروع شوه ما چې څنګه د حاجیانو صاحبانو یوه قافله ولیدله نو د خپل حج د سعادت نه پهٔ محرومۍ زما پهٔ سترګو کښې اوښکې راغلې- زهٔ پهٔ هغوئي باندې د دُعا کولو د پاره ور وړاندې شوم، چې کله مې د هغوئي سره ملاقات وکړو او وه مې وئیل: " الله پاک دې ستاسو حج قبول کړي او ستاسو د خرچو دې بهترینه بدله در عطا کړي-" پهٔ هغوئي کښې یو حاجي صاحب پهٔ حیرانتیا ووئیل چې دا دُعا څنګه؟ ما ووئیل: " د داسې غمژن ګس دُعا کوم چې تر دروازې پورې ورسي او د حاضرۍ نه محرومه پاتې شي" هغهٔ ووئیل: ډیره د حیرانتیا خبره ده تاسو هلته د تللو نه اِنکار کوئ! آیا تاسو زمونږ سره د عَرَفات پهٔ میدان کښې نهٔ وئ؟ آیا تاسو زمونږ سره شیطان پهٔ کاڼو نهٔ ویشتلو؟ او آیا تاسو زمونږ سره طواف نهٔ کولو؟ ما پهٔ خپل زړهٔ کښې سوچ وکړو چې دا یقیناً د الله پاک خصوصي کرم دے- پهٔ دې کښې زمونږه د ښار د حاجیانو صاحبانو قافله هم راورسیدله- ما هغوئي ته هم ووئیل چې " الله پاک دې ستاسو د خوش قِسمتو کوشش قبول کړي او ستاسو حج دې قبول کړي-" هغوئي هم پهٔ حیرانتیا ووئیل چې پهٔ تاسو باندې څهٔ شوي دي! دا نا غرضه کیدل څنګه! آیا تاسو پهٔ عرفات کښې زمونږ سره نهٔ وئ؟ آیا مونږه پهٔ شریکه رَمیِ جمرات نهٔ وو کړي (یعنې شیطان مو پهٔ کاڼو نهٔ وو ویشتلے)؟ پهٔ هغوئي کښې یو حاجي

صاحب راوړاندې شو او زما خوا ته راغلو او اوئې وئيل چې وروره! ځان ولې نا غرضه کوې؟ مونږ خو پۀ مکه او مدينه کښې يو ځائے وو! مونږ چې کله د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د روضې زيارت وکړو او د بابِ جبريل نه بهر راتللو نو هُغه وخت د ګنې پۀ وجه تاسو دا تيلۍ ما له د امانت پۀ طور راکړې وه د کومې پۀ مُهر باندې چې ليکلي شوے دي: **مَن عَامَلَنَا رَبِحَ** يعنې "څوک چې زمونږ سره معامله کوي نفع به بياموي-" دا خپله تيلۍ واخلئ! حضرت رَبيع رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې پۀ خدائے مې دې قَسم وي چې ما هُغه تيلۍ د دې نه مخکښې چرې هم نۀ وه ليدلې، خير ما تيلۍ واخستله- د ماسخوتن نـمونځ مې وکړو او خپله وظيفه مې پوره کړه او سملاستم او سوچ مې کولو چې اخر څۀ قيصه ده! پۀ دغه وخت کښې ما له خوب راغلو، زما ظاهري سترګې څۀ پټې شوې چې د زړۀ سترګې مې وغړيدلې اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما پۀ خوب کښې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو، ما د خپل مکي مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خدمت مبارک کښې سلام عرض کړو او مبارکې ښپې مې ورله ښکل کړې- شاهِ خيرُ الاَنام صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُسکے شو او د سلام جواب يـې راکړو او ارشاد يـې وفرمائيلو: "اے رَبيعه! مونږه خومره ګواهان قائم کړل او تۀ يـې چې هډو قبلوې يـې نۀ، واورۀ! خبره دا ده چې کله تاسو پۀ هُغې زنانه کومه چې زما پۀ اولاد کښې وه، اِحسان وکړو او خپل مال مو قرباني کړو او خپل حج مو وځنډولو نو ما د الله پاک نه سوال وکړو چې هغۀ د دې نعم البدل تا ته درعطا کړي نو الله پاک ستا پۀ شکل باندې يوه فرښته پيدا کړه او حکـم يـې ورته وکړو چې هغۀ تر

قیامته پورې هر کال ستا د طرف نه حج کوي، پۀ دُنیا کښې مې دا بدله درکړه چې د 600 درهمو پۀ بدله کښې مې 600 دینارونه (د سرو زرو اشرفۍ) درعطا کړې، تۀ خپلې سترګې یخې ساتۀ-" د الله پاک اخري رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بیا د تیلۍ پۀ مُهر باندې لیکلے شوي مبارک الفاظ ارشاد کړل: " مَنۡ عَامَلَنَا رَبِحَ" یعنې څوک چې زمونږ سره معامله کوي نفع به بیاموي، حضرت رَبیع رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي چې کله زۀ رابیدار شوم او هُغه تیلۍ مې برسیره کړه نو پۀ هغې کښې د سرو زرو 600 اشرفۍ وې- (رشفة الـصادي، ص: 253) د الله رَبُّ العزّت دې پۀ هغوئي باندې رَحمت وي او د هغوئي پۀ وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه وشي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

تیرے قدموں کا تبرُّک یدِ بَیضائے کلیم      تیرے ہاتھوں کا دِیا فضلِ مسیحائی ہے

(ذوقِ نعت، ص 251)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! ډیر " حج کوونکي" څکال د حج د سفر د پاره نا قلاره دي خو حالات پته نۀ لګي چې څۀ پیغام ورکوي؟ ډیرو حج کوونکو د حج د سفر خرچې جمع کړې دي او د خوش قِسمتو نومونه هم پۀ قرعه اندازۍ کښې راغلي دي بلکې د فلائټونو تاریخونه هم راغلي دي خو معلومه نۀ ده چې څکال به د کومو خوش قِسمتو د بیت الله شریف د حج او د مدینے منورې د زیارت ښکلي ارمانونه

پوره کیږي څکه چې د ژوند هیڅ پته نهٔ لګي- الله پاک دې پهٔ مونږ ټولو باندې خپل خصوصي فضل او کرم وکړي، بیا بیا دې د حج او د عمرې سعادتونه رانصیب کړي او پهٔ اخره کښې مو دې د شین ګنبد پهٔ سورې کښې د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ جلوو کښې د ایمان او د عافیت سره د شهادت، پهٔ جنَّتُ البقیع کښې د دفن کیدو او پهٔ جنَّتُ الفِردوس کښې د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاؤنډ نصیب کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

زمانہ حج کا ہے جلوہ دیا ہے شاہد گل کو　　　　الٰہی طاقتِ پرواز دے پرہائے بلبل کو

(حدائق بخشش، ص122)

شرح کلامِ رضا: یا الله پاکه! د حج زمانه راغلې ده او ستا د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم جلوه مبارکه ظاهره شوې ده، اے زما مولیٰ! زما سعادت نصیب کړې چې زهٔ ستا د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د کرم پهٔ دربار کښې حاضر شم-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پهٔ مختلفو روایتونو کښې د داسې ډیرو " نیکو اعمالو" بیان دے د کومو پهٔ کولو باندې چې د الله پاک پهٔ رحمت سره " د حج ثواب" میلاؤیږي، کوم عاشقانِ رسول چې څکال د حج د سفر پهٔ طمع ناست دي هغوئي دې هم او د چا سره چې د مدینے منورې د حاضرۍ اسباب نشته هغوئي دې هم کوشش وکړي او پهٔ دې نیک کارونو باندې دې عمل وکړي او پهٔ خپل وطن کښې دې د حج ثواب حاصل کړي خو یاد ساتئ چې د حج ادا کول بیله خبره ده او د حج ثواب میلاؤیدل

بیله خبره ده- پهٔ کوم مسلمان باندې چې حج فرض شوے دے هغهٔ خو به هُم فرض حج ادا کوي ، بیان کړے شوي نیک اعمال خو د دې د فضائلو او برکتونو د حاصلولو د پاره دي، دا یو قِسم له د داسې غریبانانو، دردیدلو او غم زپلو د پاره بهترینې تحفې دي کوم چې پهٔ ظاهره حج له نشي تللے هسې خو حج پهٔ ټول ژوند کښې صرف یو ځل پهٔ وَس لرونکي مسلمان باندې د شرطونو سره فرض دے-

## ﴿1﴾ د 75 زره فرښتو پهٔ ذریعه سورے

د مدینے د شهنشاه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کوم کَس چې د مسلمان ورور د ضرورت پوره کولو د پاره لاړ شي الله پاک د 75 زره فرښتو پهٔ ذریعه پهٔ هغهٔ باندې سورے فرمائي کومې چې د هغهٔ د پاره دعاګانې کوي هغهٔ تر فارغیدو پورې پهٔ رحمت کښې پټ وي او چې کله فارغ شي نو الله پاک د هغهٔ د پاره د حج او د عمرې ثواب لیکي-

(مجمع الزوائد، 354/8، حدیث:13725)

## ﴿2﴾ د ضرورت پهٔ وخت صَدَقه کول

د بهارِ شریعت پهٔ جلد: 1، صفحه: 1216 باندې دي: د حاجت پهٔ وخت " صدقه" (کول د نفلي) حج نه افضل ده-

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن سبا ډیر خلق د حالاتو پهٔ وجه پریشانه دي، کیدے شي چې ستاسو پهٔ خواؤ شاه کښې قِسما قِسم سپین رُعبي خلق هم اوسیږي، کوم چې نهٔ خو د پیشه ورو خیر مارانو پهٔ شان خیر غواړي او

نهٔ د راشن وغیره پهٔ قطار کښې ودرېږي او راشن اخلي که تاسو يــې هم پهٔ خپل خاندان، محله او ښار کښې ولټوئ نو داسې ضرورت مند خلق به تاسو ته میلاؤ شي، که کیدے شي نو د داسې خلقو د مرستې د پاره تاسو د هغوئي د میاشتې خرچه کیږدئ، د چا قرض خلاص کړئ یا يــې معاف کړئ او د هغهٔ زړهٔ ته سکون ورسوئ څهٔ پته لګي چې د الله پاک پهٔ رحمت سره تاسو ته هم د نفلي حج نه زیات ثواب عطا کړے شي۔

ہر طرف سے بلاؤں نے گھیرا آفتوں نے لگایا ہے ڈیرا
تو ہی اب میرا حاجت روا ہے یا خدا تجھ سے میری دعا ہے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## ﴿3﴾ د قبول شوي حج ثواب ورکولو والا کار

د الله پاک خوږ رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: کله چې اولاد د خپل مور پلار طرف ته د رحمت نظر وکړي نو الله پاک د هغهٔ د پاره د هر نظر پهٔ بدله کښې د حَجِّ مَبرُور (یعني د قبول شوي حج) ثواب لیکي۔ صحابهٔ کرامو عَلَیۡهِمُ الرِّضۡوَان عرض وکړو: که پهٔ ورځ کښې 100 کرته نظر وکړي؟ اوئې فرمائیل: نَعَمۡ، اَللّٰہُ اَکۡبَرُ وَاَطۡیَبُ یعني آؤ! الله پاک د ټولو نه لوئي دے او اَطیب (یعني د ټولو نه زیات پاک) دے۔

یقیناً الله به هغهٔ د 100حجونو ثواب وکوي - (شعب الایمان، 186/6، حدیث: 7856)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! یقیناً چې د مور پلار درجه ډیره لوئي ده، د هغوئي دعاګاني د اولاد پهٔ حق کښې قبلیږي، بس هغوئي خوشحاله ساتئ،

ښه ډير خدمت يـې کوئ او د هغوئي نه دعاګانې اخلئ- د هغوئي خوشحالي د ايمان سلامتيا او د هغوئي خفګان د ايمان د بربادئ سبب کيدے شي- د مور پلار فرمانبرداره هميشه ښاد او اباد اوسي، پۀ دُنيا کښې چې هر چرته وئ ، د خپل مور پلار د دعاګانو فيض حاصلوئ-

مشغول جو رہتا ہے،ماں باپ کی خدمت میں اللہ کی رحمت سے،جاتا ہے وہ جنّت میں

ماں باپ کو ایذا جو، دیتا ہے شرارت سے جاتاہےوہ دوزخ میں،اعمال کی شامت سے

## دمور يواځې پرېښودونکي عبرتناک مرګ

د يو ګس مور سخته بيماره د مرګ پۀ بستره باندې پرتۀ وه، د دې باوجود نالائقه زوي د هغې سره بد تميزي وکړه او هغۀ يـې يواځې پرېښودله او هٰغه غريبه هم د هٰغه تنهايئ پۀ حالت کښې وفات شوه- وخت تيريدلو- 30 کاله پس پۀ هٰغه " نالائقه زوي" دستونه ولګيدل (يعنې خِيټه يـې خرابه شوه) او ډير کمزورے شو- څۀ چې يـې کړي وو د هغې بدله څۀ داسې مخې ته راغله چې د هغۀ نه پۀ ژړا ژړا واوريدلے شو: " زما درې زامن دي خو زما بالکل پروا نۀ کوي، زۀ د ډيرو ورځو نه بيمار يم خو يو ځل هم د ميلاؤيدو د پاره رانغلل-" اخر هغۀ هم د خپلې مور پۀ شان د شپې پۀ تنهايئ کښې مړ شو- سحر د محلې والؤ وليدل چې پۀ ځانله پروت مړي باندې ميږان راټول شوي وو او هغۀ يـې چيچلو- (نیکی کی دعوت، ص434)

دل دکھانا چھوڑ دیں ماں باپ کا ورنہ ہے اس میں خسارہ آپ کا

(وسائل بخشش، ص713)

واقعي ده چې هغه ګس ډير خوش قِسمته دے کوم چې مور پلار خوشحاله ساتي او کوم بد نصيبه چې مور پلار خفه کوي نو د هغهٔ د پاره بربادي ده- دا حقيقت دے چې مور پلار تنګولو والا پهٔ دُنيا کښې هم سزا بياموي- د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چې اللّٰه پاک وغواړي نو د ټولو ګناهونو سزا به د قيامت د پاره کيږدي خو د مور پلار د نافرمانئ سزا پهٔ ژوندانه ورکوي- (مستدرک، 216/5، حديث: 7345)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ علىٰ مُحَمَّد

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** زما تاسو ته د همدردئ مشوره ده: که ستاسو مور پلار يا پهٔ هغوئي کښې يو خفه وي نو فوراً لاس ورته ونيسئ، پهٔ ښپو ورته پريوځئ او پهٔ ژړا ژړا ترينه د معافئ غوښتلو ترتيب جوړ کړئ، د هغوئي جائزې غوښتنې پوره کړئ چې هم پهٔ دې کښې د دواړو جهانو خير دے- هغوئي خومره بد قِسمته دي د چا مور پلار چې د خفګان پهٔ حالت کښې وفات شوي وي، هغوئي له پکار دي چې اوس د هغوئي د پاره پهٔ کثرت سره د بخښنې دعاګانې کوي چې د وفات شوي د پاره د ټولو نه لويه تحفه د بخښنې دُعا ده او د هغوئي د پاره دې ښه ډير ايصالِ ثواب هم کوي- د اولاد د طرف نه چې پرله پسې د نيکو تحفې ور رسي نو اُميد دے چې وفات شوي مور او پلار به راضي شي- نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ” که د چا مور پلار دواړه يا يو وفات شو او دهٔ به د هغوئي نافرماني کوله، اوس د هغوئي د پاره هميشه اِستِغفار کوي، تر دې پورې چې اللّٰه پاک هغهٔ نيکو کار وليکي-“ (شعب الايمان، 202/6، حديث: 7902)

که کيدے شي نو د مکـتبة الـمدينه کتابونه او رسالي وغيره د خپل وَس مطابق واخلئ او د ايصالِ ثواب پۀ نوم يـې تقسيم کړئ، که د ايصالِ ثواب د پاره د مور پلار وغيره نومونه او خپله پته پۀ رساله يا کتاب باندې ليکل غواړئ نو د مکـتبة الـمدينه سره رابطه وکړئ۔ (د مور پلار د خدمت پۀ باره کښې د نورو معلوماتو د پاره د اَميرِ اهلِسُنَّت رِساله "سمندری گنبد" د دعوتِ اِسلامي د ويب سائټ نه فري ډاؤن لوډ کولے شئ۔)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (4): د قبول شوي حج ثواب

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د چا مور پلار يا پۀ دواړو کښې چې يو وفات شوے وي نو کيدے شي چې د هغوئي پۀ زړۀ کښې راشي چې اوس زۀ څنګه د حج ثواب حاصلولے شم نو واورئ هغوئي هم د قبول شوي حج ثواب حاصلولے شي د مدينے منورې تاجدار، د مکې مکرمې سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: خوک چې د ثواب پۀ نيت باندې د خپل مور پلار دواړو يا د يو د قبر زيارت کوي، فرښتے د هغوئي د قبر (يعنې چې کله وفات شي) د زيارت د پاره راځي۔ (نوادر الاصول، 150/1، حديث: 98)

د چا مور پلار يا پۀ هغوئي کښې يو وفات شوے وي نو هغوئي له پکار دي چې (د وفات شوو مور پلار) د طرف نه غفلت نۀ کوي، د هغوئي قبرونو ته حاضري هم کوي او ايصالِ ثواب ورته هم کوي۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (5): د حج د ثواب موندلو يو بَل عمل

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د طهارت (يعني د اودس يا د غسل) کولو سره د خپل کور نه د فرض نـمونځ د پاره ووتلو د هغهٔ اَجر داسې دے لکه چې د حج کوونکي مُحرم (يعني اِحرام تړونکي) او څوک چې د څاخت د نـمونځ د پاره ووتلو د هغهٔ اَجر د عمرې کوونکي پهٔ مثل دے او د يو نـمونځ نه تر بَل نـمونځ پورې چې د دواړو ترمينځه څهٔ لغويات نهٔ وي، پهٔ عليين کښې ليکلے کيږي (يعني د قبوليت دَرجې ته رَسيږي)- (ابو داؤد، 231/1، حديث: 558) (بهارِ شريعت، 438/1، حصه:3)

حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حديثِ پاک د دې حصې (څوک چې طهارت (يعني د اودس يا د غسل کولو) سره د خپل کور نه د فرض نـمونځ د پاره ووتلو د هغهٔ اَجر داسې دے لکه د حج کوونکي مُحرم (يعني د اِحرام تړونکي) پهٔ شان) د لاندې پهٔ " مراة " جلد: 1، صفحه: 449 باندې فرمائي: حاجي کعبې ته ځي او دا جومات ته، دا دواړه د الله کورونه دي- حاجي د حج اِحرام تړي او دا د نـمونځ پهٔ نيت د کور نه ووځي- او لکه څنګه چې حج پهٔ خاص تاريخونو کښې کيږي خو حاجي د کور نه د وتلو نه تر د واپس راتللو پورې هر وخت اجر بياموي، هم داسې جُمعه اګر که پهٔ خاص وخت کښې کيږي خو د نـمونځ کوونکي د وتو نه تر واپس راتللو پورې د الله پاک پهٔ رحمت کښې وي- نور ارشاد فرمائي: ياد ساتئ چې د څاخت نـمونځ او نور نفلونه اګر که پهٔ کور کښې افضل دي خو که د کور

د مشغلو د ماشومانو د شور پهٔ وجه پهٔ جومات کښې وکړي نو هم بهتر دي، دلته هم دا مُراد دے- (مراۃ المناجیح، 449/1)

میں ساتھ جماعت کے پڑھوں ساری نَمازیں — اللہ! عبادت میں مِرے دل کو لگا دے
پڑھتا رہوں کثرت سے دُرُود اُن پہ سَدا مَیں — اور ذِکْر کا بھی شوق پئے غوث و رضا دے
اُستاد ہوں، ماں باپ ہوں، عطّاؔر بھی ہو ساتھ — یُوں حج کو چلیں اور مدینہ بھی دکھا دے

(وسائلِ بخشش، ص114، 115)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ علٰی مُحَمَّد

## ﴿6﴾ د علمِ دِين حاصلولو فضيلت

د الله پاک د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې سحر د جومات طرف ته د نيکۍ زده کولو يا ښودلو پهٔ اِراده روان شي هغهٔ ته به د کامِل (پوره) حج ثواب ميلاؤيږي- (معجم کبیر، 94/8، حدیث: 7473)

سُبْحٰنَ الله! د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي پهٔ 12 دِيني کارونو کښې يو دِيني کار "د سحر د نمونځ نه پس د تفسير اوريدو او بيانولو حلقه" لګول هم ده پهٔ کومه کښې چې د قرآنِ کريم د تفسير، درسِ فيضانِ سُنَّت او د سلسلهٔ عاليه قادريه رضويه عطاريه د بزرګانو پهٔ وسيلې سره دُعا کول يعني شجره لوستل هم شامل دي- د الله پاک د رضا حاصلولو د پاره د عِلمِ دِين د زده کولو يا د ښودلو د پاره د دې مَدَني حلقې د لګولو يا پهٔ دې کښې د شرکت کولو چې کوم عاشقانِ رسول سعادت حاصلوي د الله پاک د رحمت نه اُميد دے چې هغوئي ته به د پوره حج کوونکي ثواب عطا کړي- (د عطّار دعا واورئ او دِيني کارونه کوئ:)

جو دے روز دو "درسِ فیضانِ سنّت" میں دیتا ہوں اُس کو دعائے مدینہ
جو نیکی کی دعوت کی دھومیں مچائے میں دیتا ہوں اُس کو دعائے مدینہ
یہ عطار مکّے سے زندہ سلامت تڑپتا ہوا کاش آئے مدینہ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ علٰى مُحَمَّد

## ﴿7﴾ د سورۂ یٰسین شریف برکت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د یو نۀ بلکې د شلو حجونو د ثواب حاصلولو والا نیک عمل واورئ او پۀ دې باندې د عمل کولو د پاره تیار شئ، د مسلمانانو د څلورم خلیفه، حضرت عليٌّ المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې حضورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: چا چې د سورۀ یٰسین تلاوت وکړو د هغۀ د پاره د شلو حجونو ثواب دے او چا چې دا ولیکلو او وه یې څښلو نو د هغۀ خېټې ته به یو زر [1000] یقینونه او یو زر [1000] رحمونه داخل شي او د هغۀ نه به هر قِسمه دوکه او بیماري ووځي۔

(حلیة الاولیاء، 154/7، حدیث: 9989)

الٰہی خوب دیدے شوق قرآں کی تلاوت کا شَرَف دے گنبدِ خضرا کے سائے میں شہادت کا

## د دُنیا او د اخرت خیر

د مکې مکرمې سردار، د مدینے منورې سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: پۀ تَورات کښې د سورۀ یٰسین نوم مُعِمَّه دے، ځکه چې دا خپل تلاوت کوونکي ته د دُنیا او د اخرت خیر عطا کوي، دا د دُنیا او د اخرت بلاګانې لرې کوي او د اخرت د هیبتونو نه نجات عطا کوي۔ د دې نوم دَافعة او قَاضیة هم دے ځکه چې دا د خپل تلاوت کوونکي نه هره

بدي لرې کوي او د هغهٔ هر ضرورت پوره کوي، کوم کَس چې د دې تلاوت وکړو دا د هغهٔ د پاره د 20 حجونو برابر دے او چا چې دا واوریدو د هغهٔ د پاره د الله پاک پهٔ لار کښې د یو زر دینارونو (یعنې د سرو زرو د سکو) خرچ کولو برابر ثواب دے او چا چې دا ولیکلو او بیا یې وځښلو نو د هغهٔ خېټې ته به یو زر دوایانې، یو زر نُورونه، یو زر یقینونه، یو زر برکتونه او یو زر رحمتونه داخل شي او د هغهٔ نه هره دوکه او بیماري اوباسي-

(شعب الایمان، 2/481، حدیث: 2465)

ہر روز میں قرآن پڑھوں کاش خدایا        اللہ! تلاوت میں مرے دل کو لگا دے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## (8): د غریبانانو حج

د حضرت عبد الله بن عبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُما نه روایت دے چې د دواړو جهانو سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اَلْجُمُعَةُ حَجُّ الْمَسَاكِیْن یعنې د "جُمعې نـمونځ" د مسکینانو حج دے-" او پهٔ دویم روایت کښې دي: اَلْجُمُعَةُ حَجُّ الْفُقَرَاء یعنې د جُمعې نـمونځ د غریبانانو حج دے-

(جمع الجوامع، 4/184، حدیث: 11108، 11109)

## (9): یو حج او یوه عمره

د الله پاک اخري رسول صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: " بے شکه ستاسو د پاره د هرې جُمعې پهٔ ورځ کښې یو حج او یوه عمره موجوده ده، ځکه د جُمعې د نـمونځ د پاره زر وتل حج دے او د جُمعې د نـمونځ نه پس د مازدیګر د نـمونځ د پاره انتظار کول عمره ده- (السنن الکبریٰ للبیهقی، 3/342، حدیث: 5950)

حضرت امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: (د جُمعې د نـمونځ نه پس) د مازدیګر د نـمونځ کولو پورې دې هُم په جومات کښې اوسي او که چرې د ماښام د نـمونځ پورې ایسار شي نو افضل دي- وئیلے کیږي چې څوک په جامع مسجد کښې (د جُمعې د نـمونځ ادا کولو نه پس هم هلته ایسار شي او) د مازدیګر نـمونځ وکړي د هغهٔ د پاره د حج ثواب دے او څوک چې (هلته ایسار شي او) د ماښام نـمونځ وکړي د هغهٔ د پاره د حج او د عمرې ثواب دے- (احیاءالعلوم، 249/1) (په کوم جومات کښې چې د جُمعې نـمونځ کیږي هغې ته " جامع مسجِد" وئیلے شي-) د جُمعې د نـمونځ ادا کولو نه پس افضل دا دي چې د الله پاک په ذِکر کولو، د هغهٔ په نعمتونو باندې د غور او فِکر په کولو، په دې توفیق باندې په شُکر ادا کولو او د خپلو کوتاهیانو په وجه په ویره د کور طرف ته واپس شي او د نمر تر پریوتو پورې د خپل زړهٔ او د ژبې نګراني وکړي چې د هغهٔ نه د فضیلت والا ساعت (د ماښام نه لږ وخت مخکښې د دُعا د قبلیدو مبارک ساعت) پاتې نشي-

(احیاء العلوم، 249/1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿10﴾ د 100 حجونو ثواب

د الله پاک اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې د الله د پاره سحر 100 کرته سُبْحٰنَ الله ولولي او 100 کرته ماښام نو دے به د هغه چا په شان وي څوک چې 100 حجونه وکړي- (ترمذی، 288/5، حدیث: 3482)

مفتي احمد یار خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د دې حدیثِ پاک لاندې فرمائي: چې د ورځې پۀ شروع کیدو کښې سل کرته سُبحٰنَ الله ولولي او د شپې پۀ شروع کیدو کښې هم سل کرته ولولي نو د هغۀ به د سلو نفلي حجونو همره ثواب کیږي- دلته صاحب د مرقات فرمائي چې د تسبیح نه مُراد د زړۀ پۀ حاضرئ (یعنې د زړۀ د حاضرولو او پۀ توجه) سره تسبیح لوستل او د حج نه مُراد هٰغه حج دے کوم چې پۀ غفلت سره وکړے شي- مطلب دا دے چې د زړۀ پۀ حاضرئ سره اسانه نیکي پۀ غفلت سره د مشکلو اعمالو نه افضله وي- یاد ساتئ چې د حج ثواب میلاؤیدل بیله خبره ده او د حج ادا کول بیله خبره، دلته د ثواب ذِکر دے نۀ چې د حج د ادا کولو، لکه څنګه چې طبیبان (یعنې ډاکټران) وائي چې پۀ یوه ګرمه شوې مُنَقۍ [غټو وَسکو] کښې د یوې ډوډئ همره طاقت دے خو خِیټه هم پۀ ډوډئ باندې مړیږي، یو ګس دوه وخته پۀ دریو دریو مُنَقو خوړلو ژوند نشي تیرولے- واقعي ده چې پۀ دې تسبیحاتو کښې هم دومره ثواب دے خو حج به هم پۀ ادا کولو ادا کیږي- کوم رَبّ چې د باجرې د یوې دانې نه 7 وږي راټوکولے شي د کومو دانې چې مونږه نشو شمیرلے نو هٰغه رَبّ پۀ تسبیحاتو باندې دومره ثواب هم ورکولے شي- د داسې قِسمه ثوابونو وعده پۀ قرآنِ کریم کښې هم شوې ده (او) د داسې قِسمه حدیثونو او آیتونو مبالغه یا دروغ ګڼل بے دِیني ده، د الله پاک عطا (یعنې ورکړه) زمونږه د خیالونو نه بار ده د هغۀ منع کوونکے څوک دے -

(مرأة المناجیح، 346/3)

کر مغفرت مِری تِری رحمت کے سامنے     میرے گناہ یاخدا ہیں کِس شمار میں

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د الله پاک د رحمت نه قربان شم چې پهٔ دومره لږ شان محنت باندې دومره عظیم الشان ثواب عطا کوي، کاش چې مونږه غفلت وهلي رابیدار شو او د الله پاک د عبادت د پاره تیار شو-

ریاضت کے یہی دن ہیں بڑھاپے میں کہاں ہمّت
جو کچھ کرنا ہے اب کرلو ابھی نُوری جَواں تم ہو

(وسائل بخشش، ص 160)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿11﴾ د زمکې او د اسمان کُنجیانې

د مسلمانانو دریم خلیفه، حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د 24 سیپارې، د سورة الـزمر، آیت نمبر: 63 د دې حصې ﴿لَهٗ مَقَالِیْدُ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِؕ﴾ ترجمهٔ کنزُالعِرفان: " د زمکې او اسمانونو کُنجیانې هُم د هغهٔ پهٔ مِلکِیَت کښې دي- " د تفسیر پهٔ باره کښې د مکي مَدَني آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه پوښتنه وکړه نو نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد وفرمائیلو: " تا چې زما نه د کوم څیز پهٔ باره کښې پوښتنه وکړه د دې پهٔ باره کښې ستا نه مخکښې چا نهٔ ده کړې او د دې تفسیر دا کلمات دي: لَآ اِلٰـهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِیْمِ وَ بِحَمْدِهٖ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ وَ اَسْتَغْفِرُ اللهَ الْاَوَّلَ وَالْاٰخِرَ وَالظَّاهِرَ وَالْبَاطِنَ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، بِیَدِهِ الْخَیْرُ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ- (بیا یـې ارشاد وفرمائیلو) څوک چې دا کلمات سحر او ماښام 10 کرته لولي هغهٔ ته 6 فضیلتونه عطا کولے شي: ﴿1﴾ هغهٔ به د شیطان او د هغهٔ د لښکر نه محفوظ کولے شي- ﴿2﴾ هغهٔ له یو قِنطار (یو مخصوص مقدار) اَجر ورکولے

شي- ﴿3﴾ پۀ جنَّت کښې د هغۀ يوه درجه زياتولے شي- ﴿4﴾ الله پاک د هغۀ نِکاح د حورِ عين (د غټو سترګو والا حورې) سره کوي- ﴿5﴾ د هغۀ خوا ته 12 فرښتے حاضريږي او ﴿6﴾ هغۀ ته د حج او د عمرې ثواب ميلاؤيږي- (قوت القلوب، 240/1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## ﴿12﴾ د الله پاک د رضا د پاره دوستي

د الله پاک د رضا د پاره د دوستۍ کوونکو دوو کسانو پۀ خپل مينځ کښې ملاقات وشو نو يو د بَل نه پوښتنه وکړه: تاسو د چرته نه راغلئ؟ دويم ووئيل: ما د الله پاک د حُرمت (يعني عظمت والا کور) (کعبة الله شريف) حج او د رَسُولِ کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د روضې مبارکې زيارت وکړو او راغلم او تاسو د چرته نه راغلئ؟ ورومبي ووئيل: د خپل يو ورور سره مې ملاقات وکړو او راغلم د چا سره چې زۀ د الله پاک د پاره محبت کووم- دويم ووئيل: آيا تاسو ما له د خپل ملاقات فضيلت (اَجر او ثواب) پۀ تحفه کښې راکوئ د پاره د دې چې زۀ خپل ثواب تاسو له پۀ تحفه کښې درکړم؟ دا يې چې واوريدل نو ورومبے کَس د څۀ ساعت د پاره پۀ سوچ کښې پريوتو- پۀ دې کښې چا غيبي اواز وکړو، اواز کوونکے پۀ نظر نۀ راتللو خو اواز يې اوريدے کيدلو، هغۀ وئيل: د الله پاک د پاره د مسلمان ورور سره ملاقات کول د الله پاک پۀ بارګاه کښې د 100 حجونو نه افضل دے علاوه د حجَّةُ الاِسلَام (فرض حج) نه-(کتاب النيات، ص64)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## ﴿13﴾ د خالي پۀ ورځ نفل نـمونځ

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: " کوم کَس چې د خالي پۀ ورځ څلور رکعته نـمونځ وکړي پۀ هر رکعت کښې یو ځل سوره فاتحه او درې کرته سورۀ اِخلاص ولولي، د سلام ګرځولو نه پس آیة الـکُرسي ولولي نو اللّٰه پاک د هر حرف پۀ بدله کښې د هغۀ د پاره د یو حج او د یوې عمرې ثواب لیکي، د هر حَرف پۀ بدل کښې ورله د یو کال د روژو او د شپې د قیام ثواب زیاتوي، د هر حَرف پۀ بدله کښې ورته د یو شهید ثواب عطا کوي او (د قیامت پۀ ورځ به) هغۀ د انبیائے کرامو [عَلَيْهِمُ السَّلام] او د شهیدانو سره د اللّٰه پاک د عرش پۀ سورې کښې وي۔"

(احیاء العلوم، 267/1۔ قوت القلوب، 63/1)

ہر وقت جہاں سے کہ انہیں دیکھ سکوں میں     جنت میں مجھے ایسی جگہ پیارے خدا دے

(وسائل بخشش، ص120)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰى مُحَمَّد

## ﴿14﴾ د ماښام نـمونځ د جَمعې سره کول

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خادم حضرت اَنَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د مدينے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې د ماښام نـمونځ د جَمعې سره ادا کړو د هغۀ د پاره به د قبول شوي حج او عمرې ثواب لیکلے کیږي او هغۀ داسې دے لکه چې هغۀ پۀ شبِ قدر کښې قیام وکړو۔ (جمع الجوامع، 195/7، حديث: 22311)

## ﴿15﴾ د هر وینبته پۀ بدله کښې نیکي

د نبیانو سلطان، محبوبِ رحمان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سحر د نـمونځ پۀ باره کښې فرمائي: چا چې پۀ صحیح طریقه اودس وکړو بیا د هُغه جومات

طرف ته روان شو چرته چې نـمونځ کولے شي نو د هر قدم په بدله کښې به یوه نیکي میلاؤیږي او یوه ګناه به ورانولے کیږي او د نیکۍ اَجر لس چنده وي او چې کله هغۀ نـمونځ ادا کړي او د نمر راختلو په وخت واپس راځي نو د هغۀ په وجود باندې د موجود هر یو ویښته په بدل کښې ورله یوه نیکي لیکلے کیږي او هغۀ د یو مبرور (یعنې قبول شوي) حج ثواب بیاموي او واپس کیږي خو که هغۀ هلته کښیني او نفلونه کوي د هغۀ د هرې یوې جلسې په بدل کښې لس لاکهه نیکۍ لیکلے کیږي او څوک چې د ماسخوتن نـمونځ ادا کړي د هغۀ د پاره هم دومره نیکۍ لیکلے کیږي خو هغۀ د عمرې او د حجِ مبرور د ثواب سره واپس کیږي- (قوت القلوب، 181/1)

## ﴿16﴾ حجِ مبرور

رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حضرت سیِّدُنا عثمان بن مَظعُون رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته وفرمائیل: اے عثمانه! څوک چې د سحر نـمونځ د جَمعې سره ادا کړي بیا د نمر راختو پورې د الله پاک ذِکر کوي د هغۀ د پاره د حجِ مبرور او قبولې شوې عمرې ثواب دے- (شعب الایمان، 138/7، حدیث: 9762)

## (17): د حج او د عمرې ثواب ورکوونکے یو بَل عمل

(په یو بَل حدیثِ پاک کښې دي:) څوک چې د سحر نـمونځ د جَمعې سره ادا کړي او ذِکرُ الله کوي تر دې پورې چې نـمر راوخیژي، بیا دوه رکعته (د اِشراق نـمونځ) وکړي نو د هغۀ به د یو حج او د یوې عمرې ثواب کیږي- (ترمذی، 100/2 ، حدیث:586)

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** یو ځل بیا دا مَدَني ګل واورئ چې د حج او د عمرې ثواب میلاؤیدل بیله خبره ده او د دې ادا کول بیله

خبره ده ځکه د دې مطلب دا نهٔ دے چې مسلمانان حج پريږدي او صرف اشراق کوي- نور پهٔ دې حديثِ پاک کښې د "مبرور حج" ذِکر دے-

حضرت علامه عبد الرَّءوف مُناوي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: "د مبرور حج" معنٰی دہ: قبول شوے حج يا هٔغه حج پهٔ کوم کښې چې هيڅ ګناه نهٔ وي شوې- (التيسير بشرح جامع صغير، 158/2)

خدا حجِ مبرور کی دے سعادت مدینے کی کرتا رہوں میں زیارت

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (18): د دوو حجونو او د دوو عمرو ثواب

چا چې پهٔ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې لس ورځې اِعتکاف وکړو هغهٔ داسې دے لکه چې دوه حجونه او دومره عمرې وکړي- (شعب الايمان، 425/3، حديث: 3966) د عظيم تابعي بزرګ حضرت حَسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه منقول دي: اعتکاف کوونکي ته هره ورځ د يو حج ثواب ميلاوېږي- (شعب الايمان، 425/3، حديث: 3968)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د کوم نيک کار نيت چې پهٔ رښتوني زړهٔ سره وکړے شي او بيا پهٔ څهٔ وجه هٔغه عمل اونهٔ کړے شي نو هم الله پاک د هٔغه نيت ثواب عطا کوي راځئ چې مونږه د اوس نه نيت وکړو چې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! راروان کال له به د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک** د مياشتې ګنې کم از کم د اخرو لسو ورځو اعتکاف کوو- بلکې که کيدے شي نو نورو له به هم ترغيب ورکوو او دې د پاره به يې تياروو- اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي:

دیکھنا ہے جو میٹھا مدینہ چلو دینی ماحول میں کر لو تم اعتِکاف

دیکھو مکّے مدینے کے تم صبح و شام     دینی ماحول میں کر لو تم اعتِکاف
مان بھی جاؤ عطاؔر کی اِلتِجا     دینی ماحول میں کر لو تم اعتِکاف
(وسائلِ بخشش، ص644، 645)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿19﴾ پهٔ مسجد نبوي شریف کښې د نـمونځ کولو پهٔ ارادې سره د تللو ثواب

څوک چې اودس وکړي او پهٔ مسجدِ نبوي شریف کښې د نـمونځ کولو پهٔ ارادې سره روان شي هغهٔ ته د **حج** ثواب میلاؤیږي د مدینے منورې د تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " څوک چې اودس وکړي او زما پهٔ جومات کښې د نـمونځ کولو پهٔ اراده راووځي دا د هغهٔ د پاره د یو حج برابر دے۔" (شعب الایمان، 499/3، حدیث: 4191)

داغِ فُرقتِ طیبہ قلبِ مضمحل جاتا     کاش گنبدِ خضرا دیکھنے کو مل جاتا
دِل پہ جب کِرن پڑتی سبز سبز گُنبد کی     اُس کی سبز رَنگت سے باغ بن کے کِھل جاتا
موت لے کے آجاتی زندگی مدینے میں     موت سے گلے مل کر زندگی میں مِل جاتا
خُلد زارِ طیبہ کا اِس طرح سفر ہوتا     پیچھے پیچھے سر جاتا آگے آگے دِل جاتا
اُن کے دَر پہ اختر کی حسرتیں ہوئیں پوری     سائلِ درِ اقدس کیسے مُنفعِل جاتا

## ﴿20﴾ د مُسلمان زړهٔ خوشحالول

د سلسلهٔ عطاریه قادریه عظیم بُزرګ حضرت ابو بکر کَتّاني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: زهٔ د حضرت سَري سَقَطِي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ خدمت کښې حاضر شوم نو هغهٔ چوري (یعنې یوخوندور خوراک) راوړو او نیم یې پهٔ بَل لوښي کښې

اچول شروع کړل، ما عرض وکړو: " دا تاسو څهٔ کوئ؟ زهٔ خو به دا هم پهٔ یوه پیره کښې وخورم-" حضرت سَري سَقَطِي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه مُسکے شو او اوئې فرمائیل: " دا (یعنې د مسلمان ورور زړهٔ ته خوشحالي داخلول) ستا د پاره د (نفلي) حج نه افضل ده-" (احیاء العلوم، 15/2)

د حضرت بِشر حافي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه قول دے: د کوم مسلمان زړهٔ خوشحالول د 100 (نفلي) حجونو نه بهتر دي- (کیمیائے سعادت، 751/2)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د الله پاک د رضا د پاره د مسلمان زړهٔ خوشحالوئ او ډیر ثوابونه ګټئ، البته دا خبره یاد ساتئ چې خُدائے دې نهٔ کړي که د چا زړهٔ پهٔ ګناه کولو یا مَعَاذَ الله! د الله پاک پهٔ نافرمانۍ خوشحالیږي نو پهٔ داسې کارونو کښې به د چا خبره نهٔ منلے کیږي ځکه چې د الله پاک پهٔ نافرمانۍ کښې د چا تابعداري جائز نهٔ ده-

د دعوتِ اِسلامي د ښکلي دِیني ماحول سره خپل تړون مضبوط کړئ، د با عمله عاشقانِ رسول د صحبت اختیارولو سره به مو د نیکو کولو او د ګناهونو نه د بچ کیدو ذهن جوړ شي او هره میاشت پهٔ پابندۍ سره پهٔ قافلو کښې سفر کوئ چې پهٔ دې کښې بے شمیره سُنَّت زده کیږي او پهٔ بیان کړے شوو نیک کارونو باندې به هم د عمل کولو موقع او جذبه نصیب کیږي-

لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو　　سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو
ہے نبی کی نظر قافلے والوں پر　　پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو

(وسائل بخشش، ص662، 663)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیب ❀❀❀❀ صَلَّی اللهُ علٰی مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ





فیضانِ مدینہ محلّہ سوداگران، زرہ سبزی منڈی کراچی

UAN +92 21 111 25 26 92   0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net